AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۷/۲۱

# د افغانستان د دري ادب يو بل ستوری ولوېدی

وړاندي وروسته د هر چا ډېوې مرې کيږي
تــر سبا پــوري څــراغ بــل د چا نــه دی
( رحمن بابا )

د جون پر شلمه د واشنگټن په وخت د ماښام اته بجې، د پښتو ژبې ځوان شاعر او ليکوال، هارون حکميی په ټلفون کي د محمدشاه واصف باختری د وفات خبر کړم.

انّا لله و انّا اليه راجعون.


واصف باختری

د واصف باختری له نامه او اشعارو سره د پوهنتون په کلونو کي اشنا وم. د ۱۹۷۶ څخه تر ۱۹۷۸ کال پوري، چي د پوهني په وزارت کي د خارجي مرستو عمومي مديروم؛ مرحوم باختري د تاليف او ترجمي د غري په حيث کارکاوه. د پوهني په وزارت کي مو ليدني کتني سره کېدلي. ما هغه مرحوم ته د فارسي ژبي د يوه وتلي شاعر او هغه ماته د پښتو ژبي د يوه ځوان شاعر په حيث درناوی درلود. د ثور له کودتا سره له يوه بله ورک سولو او دا دی چي پرون يې د مريني دردناک خبر راته ورسېدی.

په حق او له مبالغي پرته ويلای سو چي واصف باختري د معاصر فارسي شعر او ادب يو داسي ځلانده ستوری وو چي گومان نه کوم د هغه تشه به په ډېرو کلونو کي ډکه سي. هغه غزل ليکل، آزاد شعر يې ليکی، ادبي نثرونه يې ليکل، داستانونه يې ليکل، په ادبي نقد کي برلاسی وو او په پوره زړه ويلای سم چي په ټولو ساحو کي يې له سيالانو څخه ميدان گټلی وو.

ځيني ليکوالان يې د ايران د نوي شعر د يوه موسس نيمايوشيج پيرو بولي. دا ليکوالان به د واصف باختري لپاره د ايرانی شاعر نيمايوشيج پيروي افتخار بولي خو زما په عقيده داقضاوت، د واصف باختري په څېرخپل يوه وطندار په حق کي، بی انصافي ده. واصف باختري په آزاد شعر کي د هيڅ چا پيروي نه کوله بلکه خپل ځانته يې جلا او مستقل سبک درلودی. د نيمايوشيج له اشعارو سره د واصف باختري د کلام يو څرگند توپير په دې کي وو چي مرحوم واصف باختري په خپل غزل او آزاد شعر کي څرگند پيغام درلودی او لوستونکي يې په هدف او پيغام پوهېدل. په داسي حال کي چي د نيمايوشيج ځيني شعرونه بلکه اکثر شعرونه دونه مغلق او په الفاظو او ترکيباتو کي نغښتي وي چي سړی يې په پيغام او هدف چنداني نه پوهيږي. د نيمايوشيج شعرونه يوازي ښکلي او له نويو ترکيبونو ډک دي خو د واصف نوي شعرونه هم ښايسته، هم ناب او هم له پيغامه سره ملگري وي.

د دومره لوی شاعر او ليکوال په باب په يوه لنډ مضمون کي ډېر لږ څه افاده کېدلای سي. که په معاصر فارسي ادب کي د چا شعرونه، ژوند او ليکني د سيمينار د جوړېدو لياقت لري نو واصف باختري، د يوه نه بلکه، د څو سيمينارونو مستحق دی. الله دي د هغه پر روح باندي ورحميږي. کورنی او علاقه مندانو ته يې د زړه له کومي تسليت وايم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ